پۀ8اکتوبر، کال 2026ء (بمطابق: 25 ربیع الآخر، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ هفته
وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# د عِزت یا د ذِلت ورځ

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- محل پۀ زمکه ننوتو
- پۀ چا پورې تهوتې کوونکې پسې به بخپله تهوتې وشي
- د قبرونو نه د راپاڅېدو مختلف حالات
- پۀ پټه د گناه کولو عذاب

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د الله پاک د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بے شکه ستاسو نومونه ماته سره د پيژندګلو پيش کولے شي، ځکه په ما باندې په اَحسن (يعني ښو الفاظو کښې) دُرُودِ پاک لولئ۔ (1)

ہم کو پڑھنا خُدا نصیب کرے　　دَم بَدَم اور بار بار درود

کون جانے درود کی قیمت　　ہے عجب دُرِّ شاہوار (بیش قیمت) درود

بھاری مَرہم ہے دلِ فگاروں کو　　راحتِ جانِ بے قرار درود (2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے۔ (3)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د

---

1...مصنف عبدالرزاق، کتاب الصلاۃ، باب الصلاۃ علی النبی، جلد:2، صفحہ:140، حدیث:3116۔

2...کافی کی نعت، صفحہ:38 ملتقطاً۔

3...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پۀ اَدب به کښېنم ❁ ښه پۀ توجُّه به بیان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب            صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## محل پۀ زمکه دننه شو

یوه وَاقِعه پۀ کتابونو کښې لیکلے شوې ده: یو بادشاه وو، ډېر عزت یې لرلو، ډېر لوئي سلطنت یې وو، نوکران خادمان، فوځ، خزانې هر څۀ ورسره وو، اِتفاق څۀ داسې وشو چې د بادشاه د محل مخې ته د یوې بوډۍ وړه شان چوپړۍ وه، هُغه ځائے د هُغه بوډۍ پۀ ملکیت کښې وو، ظاهره ده چې د عالي شان محل سره نزدې وړه شان چوپړۍ ډېره بدې ښکارېدله، د محل پۀ شان او پۀ شوکت کښې فرق راتللو، بادشاه بوډۍ ته ووئیل چې خپله دا زمکه پۀ ما باندې راخرڅه کړه- خو بوډۍ نۀ منله، یوه ورځ داسې وشول چې بوډۍ د څۀ کار د پاره ځنګل ته تلې وه چې بادشاه سپاهیان راولېږل او د هغې چوپړۍ یې ورانه کړله-

بوډۍ چې واپس راغله او خپل کور یې وران راغورځېدلے ولیدو نو بوډۍ خو هیڅ وه نۀ کړل، نۀ یې بادشاه ته کنځلې وینا اوکړه، نۀ یې د چا دروازه وژړل، نۀ یې چغې سورې ووهلې، بس د اسمان طرف ته یې مخ پورته کړو او وه یې ووئیل: اے الله پاکه! که زۀ دلته موجوده نۀ ووم نو تا خو لیدل، اے کریم مالِکه! د ټولو بادشاهانو بادشاه دې ظالِم بادشاه زما کور راوغورځولو- بس د بوډۍ دا فریاد کول وو چې هم هُغه وخت زلزله راغله او د بادشاه محل د خاورو د لاندې شو- (1)

---

1...عیون الحکایات، الحکایة الثالثة و الستون بعد المائة...الخ، صفحه:176 مفصلاً۔

اَللّٰہُ اَکْبَر! دا ده د الله پاک فېصله---!! خلق د طاقت او قوت پهٔ نشه کښې، د عهدې او مَنصَب پهٔ نشه کښې، د مال او دولت پهٔ نشه کښې، د رابطې او د تعلق پهٔ نشه کښې نور کم تر ګڼي، بے کاره يې ګڼي، ملنډې پسې کوي، زړهٔ يې ازاروي- ګڼي چې زمونږ څوک هيڅ نهٔ شي کولے- فرمائي: ياد کړئ---!! وېرېږئ---!! کله چې د الله پاک ګرفت راشي، تاسو به پهٔ زور لګولو هم هغه منع نهٔ کړے شئ، بيا طاقتور کمزوري شي، کمزوري به طاقتور شي، تقدير چې کله غلبه اوکړي نو اوچت به راښکته شي، ښکته به اوچت شي- په هغې ورځ چرې مونږ د الله پاک د غضب مستحق ونهٔ ګرځو.

فخر و غُرور سے تُو مولیٰ مجھے بچانا

یا ربّ! مجھے بنا دے پیکر تُو عاجزی کا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سُورهٔ وَاقِعه وړومبي درې آيتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د سُورهٔ وَاقِعه صرف د وړومبو درېو آيتونو او د هغې څهٔ وضاحت او د هغې نه مېلاؤېدونکي سبقونه ستاسو مخې ته پېش کووم- الله پاک فرمائي:

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۙ﴿۱﴾

لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ۘ﴿۲﴾

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۙ﴿۳﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې کله به وَاقِعه کېدونکې وَاقع شي- (هغه وخت به) د هغې پهٔ وَاقِعه کېدو کښې هيڅ چا ته د اِنکار ګُنجائش نهٔ وي- چا لره ښکته کوونکې، چا لره اوچتوونکې-(پاره:27، سورهٔ واقِعه:31)

د دې آيتونو درې معاني بيان کړے شوې دي:

## (1): د تقدیر غالِب کېدو وخت

ورومبۍ معنیٰ دا ده چې پهٔ دې آیتونو مبارکو کښې د وَاقِعه نه مُراد د الله پاک د ازلي حُکم د غالِب راتللو وخت دے۔ [1] مطلب به دا جوړېږي: چې کله د الله پاک ازلي فېصله غالبه شي، هُغه وخت به څوک هم هغه نهٔ شي منع کولے، هُغه فېصله به څنګه وي؟ فرمائي:

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۝۳

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چا لره ښکته کوونکې، چا لره اوچتوونکې۔(پارہ:27،سورۂوَاقِعه:3)

د الله پاک هُغه فېصله اوچت خلق ښکته کوونکې ده،او کمزوري خلق طاقتور جوړوونکې ده۔

## د فرعون او د نمرود هلاکت

هُغه فرعون---!! هُغه ډېر کمزورے بنده---!! هغه خو هم اِنسان وو خو چې کله یې خپل اوقات هېر کړل او وه یې وئیل:

اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلٰى ۝۲۴

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: زهٔ ستاسو د ټولو نه اعلیٰ رب یم۔ (پارہ:30، سورۂ نَازِعَات:24)

اَللّٰهُ اَكْبَرُ! خومره غرور وو، بنده وو، کمزورے وو خو پهٔ غرور کښې د حده تېر شو، نو بیا د الله پاک عذاب راغلو، د دریاب یوې چپې د هغهٔ کار تمام کړو۔[2]

نمرود خو هم بنده وو، دې بد بخته لښکر تیار کړو، مېدان ته راووتلو او وه یې وئیل: اے

---

1...قوت القلوب، الفصل الثانی والثلاثون، الخامس من مقامات الیقین، جلد:1، صفحه:382 خلاصةً۔

2...سیرت الانبیاء، صفحه:596بتغیر قلیل۔

اِبراهیمه! خپل رَبّ ته ووایۀ، راشه او زما سره جنګ اوکړه- حضرت اِبراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک په دربار کښې عرض اوکړو: اِلٰهِی تَسْمَعُ مَایَقُوْلُ هٰذَا الْكَلْبُ یعنې مولیٰ! تا واورېدل چې دا ځناور څۀ بکواس کوي- الله پاک حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَام ته وفرمائیل: اے جبرائیله! زمونږ د ټولو نه د کمزوري مخلوق یعنې د ماشو لښکر د دۀ طرف ته ولېږه! نو ماشي راغلل، دومره ماشي وو چې د ورځې تیاره شوه، ماشو د هغۀ د فوځ د غرمنو پورې وخوړل، د هډوکو ډانچې پاتې شوې- یو ماشے د نمرود دماغو ته ننوتو، هغه له به یې ټک ورکولو، دے د خپلې ټولې حکمرانۍ باوجود، د تاج او تخت او حکومت باوجود د یو ماشي نه تنګ شو، د هغه د دربار دا قانون شو چې څوک هم دربار ته راځي، ورومبے دې د هغۀ سر 10 چپړې وهي، بیا دې خبره کوي- چې چپړې به یې خوړلې نو دۀ ته به سکون میلاؤېدو-(1) دا دے:

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۝۳

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چا لره ښکته کوونکې، چا لره اوچتوونکې- (پاره:27،سورۀ وَاقِعه:3)

یعنې د الله پاک ګرِفت، د هغه اَزلي فیصله چې کله راشي نو ډېر لوئي لوئي خلق ذلیله او رسوا کړي-

## چې څۀ کَرې هغه به رِېبې

ډېر ښکلے حدیثِ پاک دے، مونږ له همېشه یاد ساتل پکار دے! حضور جانِ کائنات، شاهِ مَوجودات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اَلْبِرُّ لَا یَبْلٰی نېکي چرې هم نۀ زړېږي، وَالذَّنْبُ لَا یُنْسٰی ګناه چرې هم نۀ هېرولے کیږي، وَالدَّیَّانُ لَا یَمُوْتُ او بدله ورکوونکي ذات (یعنې الله پاک) له چرې هم مرګ نۀ راځي، اِعْمَلْ مَاشِئْتَ څۀ چې غواړې کوئ! کَمَا تَدِیْنُ تُدَانُ چې څۀ کَرې هغه به رِېبې- (2)

---

1...شرح اسماء الحسنیٰ للقشیری، باب فی معنیٰ اسم القهار، صفحه:108 دار ازال بیروت-

2...جامع صغیر، صفحه:192، حدیث:3199-

گَنْدُم ‌ازِ گَنْدُم ‌بَرُوْیَدجَوْزِجَوْ | اَزْ مُکَافَاتِ عَمَل غَافِل مَشَوْ

وضاحت: چې غنم وکرې نو هم غنم به رِيبې، چې وربشې وکرې نو هم وربشې به رِيبې، په دُنيا کښې مکافاتِ عمل دے يعني دلته د ***Tit For Tat*** (چې څهٔ کرې هغه به رِيبې) والا قانون جاري دے- د دې نه غفلت مهٔ کوئ!

## (2): قيامتِ صُغرىٰ يعنې د مرګ وخت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک فرمائي:

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۙ﴿۱﴾

لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ۘ﴿۲﴾

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۙ﴿۳﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې کله به وَاقِعه کېدونکې وَاقع شي- (هٰغه وخت به) د هغې په وَاقِعه کېدو کښې هيڅ چا ته د اِنکار ګُنجائش نهٔ وي- چا لره ښکته کوونکې، چا لره اوچتوونکې-(پاره:27، سورۂ وَاقِعه:31)

د دې آيتونو دوېمه معنىٰ دا ده چې دلته د وَاقِعه نه مُراد قيامتِ صُغرىٰ يعنې د مرګ وخت دے- (1)- بيا به مطلب دا جوړېږي چې ياد کړه! کله چې مرګ راشي، آؤ! آؤ! څوک به هغه منع نهٔ کړے شي- مرګ به ډېر خلق د ښکته او ډېر خلق د اوچتې مرتبې والا کړي-

## قبر به د جنَّت باغ يا د دوزخ کنده وي

د حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، خوږ آقاء د مديني والا مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د خوندونو ختموونکے مرګ ډېر يادوئ ځکه چې قبر هره

---

1...تفسير ابن عربي، پاره:27، سورۂ واقعه، زيرِ آيت:1، جلد:2، صفحه:286-

ورځ اواز کوي او وائي: ❀ زهٔ د نا اشنايئ کور يم ❀ زهٔ د تنهايئ کور يم ❀ زهٔ د خاورو کور يم ❀ او زهٔ د حشراتو کور يم- **چې کله مؤمِن پهٔ قبر کښې ښخ کړے شي نو قبر هغهٔ ته وائي:** تا ته هر کلے دے تهٔ زما پهٔ شا باندې پهٔ ګرځېدونکو خلقو کښې زما ډېر خوښ وې او اوس تهٔ ما ته دننه راغلې اوس تهٔ زما ښه سلوک ته وګوره، بيا قبر د هغهٔ د پاره د نظر د حده پورې پراخه شي او د هغهٔ د پاره د جَنَّت دروازه برسېره کړے شي **او چې کله څوک فاجر (يعني ګنهګار) يا کافر ګس ښخ کړے شي نو قبر وائي:** تا ته هيڅ هر کلے نشته، تهٔ زما پهٔ شا باندې پهٔ ګرځېدونکو کښې زما پهٔ نزد د ټولو نه خراب ګس وې او اوس تهٔ ما ته دننه راغلے يې څکه اوس د ځان سره زما سلوک وګوره بيا قبر پهٔ هغهٔ باندې راتنګ شي او د هغه پوښتئ پهٔ يوه بَله کښې دننه شي- راوي وائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا خبره د خپلو مبارکو ګوَتو پهٔ يو بَل کښې د اچولو پهٔ اشارې سره اوکړله او بيا يې وفرمائيل: الله پاک پهٔ دهٔ باندې 70 اژدهاګانې مقررې کړي که چرې د هغې نه يوه هم پهٔ زمکه ويرشېږي نو د دُنيا د اخره پورې به چرې هم څهٔ څيز وه نهٔ ټوکيږي، هٔغه اژدهاګانې به مرې له د قيامته پورې ټکونه ورکوي- راوي وائي: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِّنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ اَوْحُفْرَةٌ مِّنْ حُفَرِ النَّار يعنې قبر د جَنَّت د باغونو نه يو باغ دے يا د دوزخ د کندو نه يوه کنده ده- (1)

| | |
|---|---|
| گناہگار ہوں میں لائقِ جہنّم ہوں | کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یاربّ! |
| بُرائیوں پہ پشیماں ہوں رَحم فرما دے | ہے تیرے قہر پہ حاوِی تِری عطا یاربّ! (2) |

اللهٔ! اللهٔ---! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې څنګه وخت به وي--!! نن

---

1...ترمذی، کتاب صفة القيامة، صفحه:584، حديث:2460۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:78۔

چې کوم خلق لوئي لوئي خبرې کوي، د تکبر او د غرور په نشه کښې اوسيږي، د کومو خلقو چې غريبانان په سترګو بد لګي، هغه په ظاهره باندې کامياب کوم چې په نورو پسې ملنديې کوي، پيغورونه ورکوي، غور اوکړئ! آه! هُغه وخت به څنګه وي، کله چې حضرت ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړي، که څوک غريب دے او که مالداره، خان دے او که نوکر، رئيس دے او که فقير، هُغه وخت به د هيچا وَس نۀ چليږي، رُوح به د وجود نه په زوره ويستلے کيږي، اخري سلګۍ به راځي او دا ټوله دُنيا به زمونږ د پاره پردۍ شوي وي- آه! هُغه خلق کومو به چې په جامو باندې مچ کيناستو ته نۀ پريښودو، د هغۀ د وجود نه به جامې څيرې کړے شي او اوبه ويستلے شي، په تخته باندې به څملولے شي، غسل به ورکړے شي او کفن به ورته ورواچولے شي- په 4 اوګو باندې به واخستے شي او د خاورو لاندې به کړے شي-

آؤ! آؤ! ❀ نن که د ويښتو نه په جامو باندې چائے توئي شي نو کوم خلق چې هغۀ ته ستغې سپورې وائي ❀ که چرې جامې يے لګې راکوت شي نو تندے تريو کړي ❀ که ښځه يې جامې صحيح اِستري نۀ کړي نو په کور کښې غوبل شروع کړي، غور اوکړئ چې هُغه وخت به په کفن باندې خاورې اچولے کيږي، په بيلچو باندې به راخستے کيږي او اچولے کيږي او مونږ به بالکل بے وسه يو- آؤ! دا دے هُغه وخت:

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿۳﴾

[مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: چا لره ښکته کوونکې، چا لره اوچتوونکې-

(پاره:27، سورۀ وَاقِعه:3)

هُغه وخت کوم چې به ډير خلق په عذاب کښې راګير کړي، او د ډيرو خلقو قبرونه به د جَنَّت باغ جوړ شي-

# زۀ مخکښې بادشاه ووم

روایت دے: یو ځل د الله پاک نبي حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام پۀ یو ځائے تېرېدلو، هغوئي د اِنسان یوه کوپړۍ ولیدله- هغوئي د الله پاک نبي وو او مړي راژوندي کول د هغوئي پۀ معجزو کښې وو، نو هغوئي هُغه کوپړۍ پۀ ښپه ووهله او وه يې فرمائيل: تَکَلَّمِیْ بِاِذْنِ اللّٰهِ د الله پاک پۀ حُکم زما سره خبرې اوکړه!

پۀ دومره فرمائيلو سره هُغې کوپړۍ خبرې شروع کړې، عرض يې اوکړو: اے رُوح الله عَلَیْہِ السَّلَام ! زۀ مخکښې بادشاه ووم، زما سلطنت دومره دومره پراخه وو، یوه ورځ زۀ پۀ خپل دربار کښې ناست ووم، عظيمُ الشان تاج زما پۀ سر وو، زما لښکر او وزيران صلاح کاران ګېر چاپېره موجود وو، ناڅاپه، بالکل ناڅاپه ملک المَوت عَلَیْہِ السَّلَام د چرته نه راښکاره شو، آؤ! پۀ لږ ساعت کښې هغوئي زما رُوح قبض کړو، آه--!! هُغه ډک دربار پۀ لږ ساعت کښې پۀ تنهايۍ کښې بدل شو، هې! هې! هُغه رعب او دبدبه، پۀ ما باندې ځان قربانوونکے زما لښکر، هُغه اشنائي او محبت یو دم پۀ وحشت او غريبۍ کښې بدل شو-[1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دغه حال دے، آؤ هم دغه حال دے، کوم چې ډېر زر پۀ مونږ باندې هم راتلونکے دے، آؤ! آؤ! مونږ ټول هم د دې وحشت او تنهايۍ، غريبۍ او بے وسۍ ښکار کېدونکي یو، چې د بادشاهانو لښکرو هغوئي بچ نۀ کړے شو نو زمونږ درې څلور دوستان به هم مونږ بچ نۀ کړے شي، که د بادشاهانو تاج او تخت او اوچتو اوچتو محلونو هغوئي د مرګ نه بچ نۀ کړے شو نو زمونږ واړۀ واړۀ کورونه، معمولي عزت او شهرت به هم مونږ بچ نۀ کړے شي، آه! ملک المَوت عَلَیْہِ السَّلَام به تشريف راوړي، رُوح به راښکي، اخري سلګۍ به راځي، سترګې به مو د چت طرف ته وي او دا ټوله دُنيا به د خپلو ټولو

---

1 ...مکاشفة القلوب، باب فی بیان شدة الموت، صفحه:244 بتغیر-

ښکلاکانو سره زمونږ د پاره يو دم نا اشنا شي-

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشہ نہیں ہے
ملے خاک میں اہلِ شاں کیسے کیسے
مکیں ہو گئے لامکاں کیسے کیسے
ہوئے نامور بے نشاں کیسے کیسے
زمیں کھا گئی نوجواں کیسے کیسے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشہ نہیں ہے

بهر حال !خوږ او محترمو اسلامي وروڼو!مرګ راتلل او قبر ته کوزيدل هم هغه وخت دے چې ډير خلق به ذليله کړي او ډير خلق به د دنيا د قيد نه ازاد کړې او د جنت حقداران به يې جوړ کړي.

## (3): قيامت د عزت يا د ذِلت ورځ ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اللہ پاک فرمائي:

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱﴾

لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿۲﴾

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿۳﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې کله به وَاقِعه کيدونکې وَاقع شي- (هٰغه وخت به) د هغې په وَاقِعه کيدو کښې هيڅ چا ته د اِنکار گُنجائش نۀ وي- چا لره ښکته کوونکې، چا لره اوچتوونکې-(پاره:27، سورهٔ وَاقِعه:31)

د دې آيتونو دريمه او ډيره مشهوره معنیٰ دا ده چې دلته د وَاقِعه نه مُراد قيامت دے- مطلب دا دے چې د قيامت هٰغه وحشت ناکه وَاقِعه چې کله وَاقِعه شي، قيامت قائِم شي، هغه به څوک هم منع نۀ کړے شي، نن چې کوم غير مسلمه، د دِين نه بيزاره، مُلحِدان وغيره د دې

نه اِنکار کوي، بیا به پهٔ غږېدلو سترګو قیامت ویني، د دې نه به اِنکار وه نهٔ کړے شي، آؤ! آؤ! دا قیامت دے کوم چې به اوچت خلق ښکته او ښکته خلق اوچت کړي۔ (1)

## پهٔ نورو پورې توقې کوونکې پسې به پخپله توقې وشي

پهٔ 30 سیپاره، سُورهٔ مُطَفِّفِين کښې یوه وَاقِعه ذِکر کړے شوې ده، زهٔ دا د تفسیرونو پهٔ رڼا کښې لږه پهٔ تفصیل سره عرض کووم، اَبُو جَهل، عُتبه، شَیبه، وَلید بن مُغِیره وغیره کوم چې د مکے مکرمې کافران وو، دوئي به چې کله حضرت بِلالِ حبشي، حضرت صُهیب رُومي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم وغیره صحابهٔ کرام لیدل، د هغوئي ساده جامې، ساده خوراک، پهٔ سادګئ سره ژوند تېرول به یې لیدل نو پهٔ هغوئي پسې به یې توقې کولې۔ د هغوئي طرف ته به یې کتل او خنداګانې به یې وریسې کولې، پهٔ سترګو باندې به یې اِشارې کولې او پهٔ هغوئي پسې به یې ملندې کولې۔ (2)

الله پاک وفرمائیل:

فَالْیَوْمَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ یَضْحَكُوْنَ ﴿۳۴﴾

عَلَى الْاَرَآىٕكِ ۙ یَنْظُرُوْنَ ﴿۳۵﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو نن به اِیمان والا پهٔ کافرو پورې خاندي۔ پهٔ تختونو ناست به ګوري۔(پاره:30، سُورهٔ مُطَفِّفِين:34 و 35)

یعنې چې کله د قیامت ورځ وي، دا صحابهٔ کرام عَلیهِمُ الرِّضوَان به جَنَّت ته ورسېږي، جنتیان به پهٔ اوچتو اوچتو تختونو باندې تشریف فرماکېږدي، جنتي جامې به یې اغوستې وي، د جنتي نعمتونو نه به خوندونه اخلي۔ دلته به هُغه غیر مسلمه دوزخ ته غورځولے کیږي، کله

---

1...تفسیر طبری، پاره:27، سورهٔ واقعه، زیرِ آیت:31، جلد:11، صفحه:622 خلاصةً۔

2...تفسیر قرطبی، پاره:30، سورهٔ مُطَفِّفِين، زیرِ آیت:29، جلد:10، جز:19، صفحه:160 بتصرف۔

چې دوئي د دوزخ په وور کښې سوزېږي، ناڅاپه به د دوزخ دروازه برسېره کړے شي، دوئي به طمع لري، بهر طرف ته به منډه کړي خو چې څنګه دروازې ته ورنزدې شي، نو بيا به دروازه بنده کړے شي، دوئي به بيا په عذاب کښې راګېر کړے شي- بيا به دروازه برسېره کړے شي، بيا به بهر منډه کړي خو دروازه به بنده کړے شي، هم داسې به کيږي او جنتيان به دوئي ته په کتو کتو خاندي چې وګورئ! تاسو به په مونږ پسې خنداګانې کولې، نن په تاسو پسې خنداګانې کيږي- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا دے قيامت---!! اوچت ښکته کوونکې---!! د دې نه مونږ ته معلومه شوه چې نن په دُنيا کښې په چا پسې خندا نۀ ده کول پکار، چا له پېغورونه نۀ دي ورکول پکار، په چا پسې په ټوقو کولو د هغه زړۀ ازارول نۀ دي پکار، آه! که د قيامت په ورځ په مونږ پورې خندا اوکړے شوه نو سوچ اوکړئ چې زمونږ به څۀ کيږي-

## په چا پسې ټوقې مۀ کوئ---!!

الله پاک په 26 سيپاره، د سورۀ حُجُرَات په آيت نمبر 11 کښې اِرشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَ لَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! نارينه دې په نورو نارينو پورې نۀ خاندي، کېدے شي چې هغوئي د هُغه خندا کوونکو نه بهتر وي او نۀ دې زنانه په نورو زنانو پورې خاندي، کېدے شي چې هغوئي د هُغه خندا کوونکو نه بهترې وي-

د هر چا خپل شوق وي، د ژوند تېرولو خپل انداز يې وي، مونږ د چا په انداز تنقيد نۀ شو

1...تفسير قرطبی، پاره:30، سورۀ مُطَفِّفِيْن، زيرِ آيت:34، جلد:10، جز:19، صفحه:161 مفصلاً-

کولے، مونږ د چا پۀ جامو باندې، د هغه د ژوند تېرولو پۀ طور طریقو (***Life Style***) باندې تنقید نۀ شو کولے، د دې پورې چې که څوک ګُنهګار دے نو هغۀ له پۀ ښه انداز کښې د نېکۍ دعوت خو ورکولے شي خو پۀ هغه پسې ټوقې کول هيڅکله صحيح نۀ دي۔

نن سبا دلته دا وَبا ډېره عامه ده چې ❀ که چا د ږېرې مبارکې سُنَّت پرېښودې وي نو پۀ هغۀ باندې تنقيد ❀ که څوک د عمامې شريفې تاج پۀ سر کړي نو پۀ هغۀ باندې تنقيد ❀ که څوک د نيمو پنډو پورې د سُنَّت مطابق پرتوګ اچوي نو پۀ هغۀ باندې تنقيد ❀ د خوار غريب پۀ جامو پسې خاندې کوي او پېغورونه ورکوي ❀ د نورو پۀ پېښو کولو د هغوئ پۀ انداز پسې ټوقې کولے شي ❀ د دې پورې چې بعضې نادانه د قُدرت پۀ جوړ کړے شوو څيزونو پسې هم پۀ ټوقو کولو نۀ شرمېږي ❀ که د چا سترګې کږې دي نو هغۀ ته چپا [يعني کوږ سترګے] وئيلے کيږي او ټوقې پسې کيږي ❀ که د چا پوزه اوږده ده نو د هغۀ پۀ پوزه پسې خندا ❀ که د چا شونډې پيڅې دي نو د هغه پۀ شونډو پسې خندا ❀ که د چا پۀ ښپه کښې مسئله ده نو هغۀ ته ګوډ وئيلے کيږي او د مخامخ کَس د عزتِ نفس خيال نۀ ساتلے کيږي۔

## پۀ چا پسې د خندا عذابونه

د الله پاک خوږ او اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي:

لَا تُمَارِ اَخَاكَ وَلَا تُمَازِحْهُ

ترجمه: د خپل وروور سره جګړه مۀ کوه، مۀ پۀ هغه پسې ټوقې کوه۔[1]

پۀ يو حديثِ پاک کښې دي: بے شکه پۀ خلقو پسې د ملنډو کوونکي د پاره به د جَنَّت دروازه برسېره کړے شي، بيا به هغه راوبللے شي: چې راشه! رانزدې شه---! کله چې هغه

1...ترمذی، کتاب البر والصلة، باب ماجاء فی المراء، صفحه:484، حديث:1995۔

جَنَّت ته نزدې شي نو دروازه به بنده کړے شي، داسې به ډېر ځل کولے شي- (1)

آه! هٰغه نادانه کوم چې د نورو د عزت خیال نهٔ ساتي، ملندې کوي او نور ذلیله کوي او خاندې او خوشحالی کوي، دا روایت بیا بیا ولولئ، پهٔ دې باندې غور اوکړئ، لږ سوچ خو اوکړئ--! هٰغه د قیامت 50 زره کاله اوږده ورځ، د اوسپنې سرهٔ شوې زمکه، نمر به وور وروي، هر طرف ته به د نفسي نفسي حالت وي، پهٔ داسې حالت کښې چې کله څوک د جَنَّت طرف ته وبللے شي، د هغهٔ زړهٔ به څومره خوشحاله وي، هغه به پهٔ خپل قِسمت باندې رَشک کوي، د څومره اُمید سره به د جَنَّت طرف ته منډه کړي خو آه--! څنګه چې جَنَّت ته نزدې شي نو دروازه به بنده کړے شي، لږ سوچ خو اوکړئ چې هٰغه وخت به څومره پښېمانتیا وي، د اُمېدونو ټولې ډېوې به یو دم مړې شي، خوشحالیِ کوونکے زړهٔ به ټوټې ټوټې شي- آه! دا ارمان، دا پښېمانتیا به ولې وي---؟ ځکه چې دې بد نصیبه به پهٔ دُنیا کښې پهٔ نورو پسې ملندې کولې، د قیامت پهٔ ورځ به دهٔ له ډېره بده بدله ورکولے کېږي-

| بھائیوں کا دل دُکھانا چھوڑ دو | اور تمسخر بھی اُڑانا چھوڑ دو (2) |
|---|---|

## د پردې د ماتیدو ورځ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! قیامت د پردې د ماتېدو ورځ ده، نن چې مونږ دننه هر څهٔ هم یو خو پټ یو ❀ د زړهٔ تور والے پهٔ سینو جامو کښې دننه پټ دے ❀ څوک د طاقت شا ته پټ شوے دے ❀ څوک د عهدې او د منصب شا ته پټ شوے دے ❀ څوک د مال او دولت شا ته پټ شوے دے، پهٔ اصل کښې خو دا هر څهٔ د اللّٰه پاک ستَّاري ده چې هغه

1...موسوعه ابن ابي الدنیا، کتاب ذم الغیبة والنمیمه، باب ما نهی عنه العباد...الخ، جلد:4، صفحه:413، حدیث:149 خلاصةً-

2...وسائلِ بخشش، صفحه:713-

زمونږ عیبونه پټ ساتلي دي خو یاد ساتئ چې قیامت د پردې د ماتېدو ورځ ده، د پټو رازونو د راښکاره کېدو ورځ ده- الله پاک فرمائي:

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: په کومه ورځ به چې د پټو خبرو ازمېښت[راڅرګندلے] کیږي- نو اِنسان سره به نهٔ څهٔ قوت وي او نهٔ څوک مددګار-

یَوْمَ تُبْلَى السَّرَآئِرُ ۙ﴿۹﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: په کومه ورځ به چې د پټو خبرو ازمېښت[راڅرګندلے] کیږي- نو اِنسان سره به نهٔ څهٔ قوت وي او نهٔ څوک مددګار-

فَمَا لَهٗ مِنْ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ ؕ﴿۱۰﴾

یعنې د قیامت په ورځ باندې به ټولې پټې خبرې راښکاره شي، په هغه ورځ به د غیر مسلمو د پاره هیڅ طاقت او هیڅ اِمداد کوونکے نهٔ وي-

## د قبرونو نه د راپاڅېدو مختلف حالات

علّامه اِبنِ جوزي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه لیکلي دي: په روایتونو کښې راغلي دي چې بنده کله مړ شي نو که د هغهٔ اعمال ښه وي او که بد، د هغهٔ د سر خوا ته راجمع شي، کله چې هغهٔ له غسل ورکړے کیږي، کفن اغوستلے کیږي، د هغهٔ جنازه کیږي، په دې ټولو وختونو کښې د هغهٔ اعمال د هغهٔ سره وي او دا هم د هغهٔ سره د هغهٔ قبر کوزیږي، خلق خو مړے ښخ کړي او واپس راشي خو اعمال د هغهٔ سره په قبر کښې پاتې شي، بیا د قیامته پورې د هغهٔ سره دا اعمال ورسره وي، د دې پورې چې کله قبرونه وڅېرډلے شي، مړي بیا راژوندي کړے شي، هُغه وخت که د هغهٔ اعمال ښه وي او که بد، د هغهٔ سره به د قبر نه راوځي، بیا چې کله د حساب د پاره دے د حشر د میدان طرف ته ځي، د هغه ټول ښه او بد اعمال به راجمع شي، په هغې کښې به څهٔ وړه، څهٔ غټه ګناه نهٔ هېرولے کیږي، د هغهٔ ښکاره او پټ ټول اعمال به

مخې ته راشي۔ (1)

## اَعمال به خلقو ته هر کلے وائي

حضرت عَمرو بن قيس رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: مسلمان چې کله د خپل قبر نه رابهر شي نو د هغهٔ عمل به پهٔ ښکلي شکل او د بهترينې خوشبويۍ پهٔ شکل کښې هغهٔ ته هر کلے وائي او هغه ته به وائي چې تهٔ ما پيژنې؟ بنده به وائي: تهٔ ډير ښائسته يې، ډير خوشبوداره هم يې خو زهٔ تا نه پيژنم۔ د هغهٔ ښه عمل به وائي: پهٔ دنيا کښې تهٔ هم داسې وې، ستا خوشبو (يعنې ستا کردار، ستا اعمال او ستا سيرت) ډير ښکلے وو، زهٔ ستا نيک عمل يم، د ځو پورې چې تهٔ پهٔ دنيا کښې وې زهٔ ستا پهٔ سر ولاړ ووم (يعنې تهٔ مې د خواهشاتو نه منع کولې، تهٔ مې پهٔ نيکو کښې مصروف وساتلې)، نن ورځ تهٔ زما پهٔ سر ودريږه۔

دا به د نيک مسلمان حال وي ولې د کافر عمل به هغهٔ ته هر کلے پهٔ بد او سخت بدبوداره شکل کښې وائي، کله چې بنده د قبر نه راپاځي نو د هغهٔ بد عمل به راشي، پوښتنه به اوکړي: آيا تهٔ ما پيژنې؟ کافِر به وائي: تهٔ ځومره بد رنګه يې، ستا نه ځومره سخا بوئي ځي، زهٔ تا نه پيژنم۔ د هغهٔ بد عمل به وائي: تهٔ هم پهٔ دنيا کښې داسې بدبوداره وې، زهٔ ستا بد عمل يم، پهٔ دنيا کښې تهٔ زما پهٔ سر ولاړ وې، نن به زهٔ ستا پهٔ سر ودريږم۔ (2)

## د عزت او د ذِلت جنډې

رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د قيامت پهٔ ورځ به هر خيانت کوونکي د پاره يوه جنډه لګولے شي، پهٔ کومې به چې هغه پيژندلے کيږي۔ (3)
پهٔ يو روايت کښې فرمائي: د قيامت پهٔ ورځ به د هر دوکه باز د پاره جنډه لګولے شي او

---

1...بستان الواعظين، مجلس فی الحساب...الخ، عمل العبد يلازمه، صفحه:78 بتغير قليل۔

2...تفسير طبری، پاره:7، سورهٔ انعام، زير آيت:31، جلد:5، صفحه:178، رقم:13190 ملتقطاً۔

3...بخاری، کتاب الحيل، باب اذا غصب جارية...الخ، صفحه:1695، حديث:6966۔

وئیلے به شي: دا د فلانکي د فلانکي د خوي جنډه ده۔ (1)

اِمام شمس الدين قرطبي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د قيامت پهٔ ورځ به د هر نيک او بد د پاره جنډه لګولے شي، نيک به د خپلې جنډې پهٔ وجه د لرې نه پيژندلے کيږي او بدکار به د خپلې بدئ د جنډې پهٔ ذريعه پيژندلے کيږي۔ (2)

اَللّٰهُ اَکۡبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې دا به څومره د رسوايۍ وخت وي، د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام نه واخله تر د قيامته پورې راتلونکي به ټول راجمع وي، نن چې کوم خلق مونږ ته حاجي صاحب وائي او پهٔ ادب سره مو رابلي، کوم چې د لرې نه پهٔ ليدو د سلام کولو د پاره منډې راوهي، کوم چې لاسونه ښکلوي، پهٔ کوڅه باندې پهٔ تيريدو چې مو وه ويني نو د چائے څښلو دعوت راکوي، کوم خلق چې زمونږ د عزت د پاره د څيزونو قيمت کم لګوي، هُغه کوم خلق چې د برکت د پاره پهٔ مونږ باندې دُعاګانې کوي، ټول به موجود وي۔

او زمکه به هم هواره وي، داسې چې پهٔ يو کوټ يې يوه دانه کېښودے شي نو د بل کوټ نه به صفا پهٔ نظر راځي۔(3) يعني ټول به موجود وي او زمکه به هم بالکل هواره وي، د پټيدو به څهٔ سوال نهٔ پيدا کيږي، پهٔ داسې حالت کښې به ❀ زمونږه د بدئ جنډه لګولے شي ❀ اِعلان به کيږي، دهٔ به نورو له دوکې ورکولې ❀ دهٔ به پهٔ پټه باندې ګناه کوله ❀ دهٔ به د شپې د ټولو نه پهٔ پټه پهٔ موبائل کښې ګنده نظارې کتلې ❀ دے پهٔ ظاهره باندې نيک وو خو پهٔ تنهايۍ کښې به يې ګناهونه کول۔ اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! سوچ اوکړئ! ښه ډير سوچ اوکړئ چې هُغه وخت به زمونږه د شرميدو حالت څهٔ وي---؟

---

1...مسلم، كتاب الجهاد والسير، باب تحريم الغدر، صفحه:690، حديث:1736۔

2...التذكرة في احوال الموتى و امور الآخرة، باب ما جاء في عقوبة مانعي الزكاة...الخ، جز:1، صفحه:267۔

3...بهارِ شريعت، جلد:1، حصه:1، صفحه:132۔

چھپ کے لوگوں سے کیے جس کے گناہ
وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے

ارے او مجرِم بے پرواہ دیکھ
سر پہ تلوار ہے کیا ہونا ہے

کام زنداں کے کئے اور ہمیں
شوقِ گلزار ہے کیا ہونا ہے (1)

# ګناه اخر هم ګناه ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! ګناه که په پټه اوکړے شي او که د خلقو په مخکښې اوکړے شي، ګناه خو اخر هم ګناه ده- او الله پاک په خپله نافرمانۍ کوونکو بندګانو باندې سخت غضب فرمائي- **غور اوکړئ** چې دا څه خلق وو کوم چې په ظاهري توګه خو نېکان وو خو په پټه باندې به يې ګناهونه کول او يو مونږ يو چې بالکل ښکاره ګناهونه کوو او لږ شان شرم هم نۀ راځي، زمونږ به څۀ کيږي؟ آه! لږ سوچ خو اوکړئ! که داسې په ګناهونو کولو کولو قبر ته کوز شو او په مونږ باندې عذاب مُسلط کړے شو نو مونږ به څۀ کوو؟ که مارانو او لړمانانو مو کفن وشلولو او زمونږ بدن يې قبضه کړو نو چرته به ځو؟ د قبر د ديوالونو په را يو ځائے کېدلو که چرې زمونږ پوښتۍ ماتې شوې او په يوه بله کښې دننه شوې نو څومره سخت تکليف به وي؟ د يو کاڼي زخم خو برداشت کولے نۀ شو که فرښتو په څټکونو وهل شروع کړل نو د دې نازکو هډوکو به څۀ کيږي؟

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما فرمائي: اے ګنهګاره! تۀ د ګناه د بد اَنجام نه ولې نۀ وِيرېږې؟ حالانکې د ګناه په طلب کښې اوسېدل د ګناه کولو نه هم لويه ګناه ده ❀ ستا د ښي، ګڅ اړخ د فرښتو نه حيا نۀ کول او په ګناه باندې قائِم اوسېدل هم ډېره لويه ګناه ده يعني د توبې کولو نه بغير ستا په ګناه باندې قائِم پاتې کېدل د دې نه هم لويه ګناه ده ❀ ستا په ګناه کولو باندې خوشحالېدل او په کړس کړس خاندل د دې نه هم

---

1...حدائق بخشش، صفحه:167 ملتقطاً۔

لویه ګناه ده حالانکې تا ته نهٔ ده معلومه چې الله پاک به ستا سره څهٔ سلوک کوي؟ ❀ او ستا پهٔ ګناه کښې پهٔ ناکامه کېدو باندې غمژن کېدل د دې نه هم لویه ګناه ده- د ګناه کولو پهٔ وخت که د تېزې هوا سره د دروازې پرده لرې شي نو تهٔ وېرېږې **خو د الله پاک د هغه نظر نه نهٔ وېرېږې کوم چې هغه پهٔ تا باندې لرې ستا دا عمل د دې نه هم لویه ګناه ده-**(1)

کب گناہوں سے کَنارا میں کروں گا یاربّ!

نیک کب اے مِرے اللہ! بنوں گا یاربّ!

کب گناہوں کے مَرض سے میں شِفا پاؤں گا

کب میں بیمار مدینے کا بنوں گا یاربّ!(2)

## پهٔ پټه د ګناه کولو عذاب

حضرت عبد الله بن زید رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: زهٔ د [قمري] میاشت پهٔ وړومبو شپو کښې د هدیرې پهٔ خوا تېرېدم نو ما یو ګس د قبر نه پهٔ راوتو ولیدو او هغهٔ زنځیر راښکلو بیا ما ولیدل چې یو بَل ګس هغه زنځیر نیولے دے هغه دویم [ګس] بهر وتونکے ګس خپل طرف ته راښکلو او هغه یې قبر ته واپس کړو، بیا ما هغه د هغهٔ مرې پهٔ وهلو ولیدلو او مړې وئیل: آیا ما به نمونځ نهٔ کولو؟ آیا ما به د جنابت نه غُسل نهٔ کولو؟ آیا ما به روژې نهٔ نیولې؟ نو هغه وهونکې جواب ورکړو: آؤ! ولې نهٔ (تا به واقعي چې دا کارونه کول) **خو چې تا به کله پهٔ تنهایۍ کښې ګناه کوله نو هغه وخت به د الله پاک نه نهٔ وِېرېدلې-** (3)

اَللّٰہُ اَکْبَر! اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! تصور اوکړئ! څوک به داسې وي چې دومره

---

1...ذم الھویٰ لابن جوزی، الباب الرابع والعشرون فی التحذیر من المعاصی...الخ، صفحه:148۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:84۔

3...الزواجر، مقدمه، جلد:1، صفحه:30۔

خطرناک عذاب برداشت کړے شي--!! یقیناً په مونږ کښې به په چا کښې هم دومره همت نۀ وي خو افسوس چې مونږ نۀ وېرېږو، په غفلت کښې اخته یو، ناراستي کوو، د خلقو نه که وشرمېږو او ګناه پرېږدو، د بدو کارونو نه ځان وساتو خو په تنهایئ کښې هُغه ګناهونه کوو چې اَلْاَمَانْ وَالْحَفِیظ...!!

## نن د عمل وخت دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس لا مونږ ژوندي یو، نن زمونږ سره وخت شته، مونږ توبه کولے او تېر ګناهونه بخښلے شو، نیک کارونه کولے او د قبرونو د روښانه کولو اِنتظام کولے شو، که چرې د دې ساه ګانو لړۍ ماته شوه، رُوح د تن نه ووتو نو د پښېمانتیا نه علاوه به هیڅ لاس ته نۀ راځي- وئیلے کیږي: یو مړے په خوب کښې ولیدلے شو نو هغه ووئیل:

مَا عِنْدَکُمْ اَکْثَرُ مِنَ الْغَفْلَةِ وَمَا عِنْدَنَا اَکْثَرُ مِنَ الْحَسْرَةِ

یعني تاسو ژوندي خلق ډېر په غفلت کښې یئ او مونږ کوم چې قبر ته کوز شوي یو، مونږ ډېر زیات په ارمان کښې یو- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې نه مخکښې چې مرګ مونږ راګېر کړي، د دې نه مخکښې چې قیامت قائِم شي، د دې نه مخکښې چې قبر مو د چینجو او د وِینو نه ډکېدل شروع شي، د دې نه مخکښې چې د قیامت رسوایئ شروع شي، مونږ له نن او هم د اوس نه توبه کول او، د خپل رحمان او رحیم رَبِّ کریم نه د ګناهونو معافي غوښتل او، د کومو ګناهونو تلافي چې کېدے شي، د هغې په تلافئ کولو په نیکو کښې مصروفه کېدل پکار دي-

---

1...اهوال القبور، الباب الرابع...الخ، فصل النهی عن تمنی الموت...الخ، صفحه:68-

## تَوبَه کړئ!

د الله پاک رحمت ته خو وګورئ چې څومره پراخه دے- څوک چې توبه کړي، الله پاک هغه خپل محبوب بنده جوړ کړي- اِرشاد دے:

اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ التَّوَّابِیْنَ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه الله د ډېرې توبې کوونکو سره محبت فرمائي-

(پاره:2، سورهٔ بَقَره: 222)

## د ګناهونو ورانولو وظیفه

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: څوک چې درې کرته

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِیْمَ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ وَ اَتُوْبُ اِلَیْهِ

(یعنې زۀ د الله پاک نه د بخښنې سوال کووم د کوم نه سِوا چې هیڅ څوک معبود نشته او هغه پخپله ژوندے دے د نورو قائِم لرونکے، زۀ د هغهٔ طرف ته رجوع کووم) ولولي د هغهٔ ګناهونه به وبخښلے شي اګر که د سمندر د ځګ نه زیات وي- (1)

الله پاک دې زمونږ د رښتونې توبې توفیق نصیب کړي- کاش چې مونږ ګناهونه پرېږدو، شپې ډېرې نېکۍ اوکړو، د الله پاک پۀ راضي کوونکو کارونو کښې مصروفه شو، کاش! کاش! کاش! چې زمونږ د بخښنې څۀ ذریعه جوړه شي

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

| | |
|---|---|
| گناہگار ہوں میں لائقِ جہنّم ہوں | کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یا ربّ! |
| بُرائیوں پہ پشیماں ہوں رَحم فرمادے! | ہے تیرے قہر پہ حاوی تری عطا یا ربّ!(2) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1...تَنْبِیْهُ الْغَافِلِین، باب آخر من التوبة، صفحه:59-

2...وسائلِ بخشش، صفحه:78-

# د سُورهٔ وَاقِعه مختصر فضيلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د سُورهٔ وَاقِعه لوستلو، زده کولو او د پوهې سره د لوستلو ډېر فضائل دي- دا ډېر د فضيلت والا سُورت دے- پهٔ حديثِ پاک کښې دي، رسولِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

مَنْ قَرَاَ كُلَّ لَيْلَةٍ سُوْرَةَ الْوَاقِعَةِ لَمْ تُصِبْهُ فَاقَةٌ اَبَدًا

ترجمه: څوک چې روزانه د شپې د سُورهٔ وَاقِعه تِلاوت کوي، هغه به چرې هم د لوږې (يعني تنګدستۍ) نهٔ ښکار کيږي- (1)

پهٔ يو حديث کښې فرمائي:

عَلِّمُوْا نِسَاءَكُمْ سُوْرَةَ الْوَاقِعَةِ، فَاِنَّهَا سُوْرَةُ الْغِنٰى

ترجمه: خپلو زنانوٓ ته سُورهٔ وَاقِعه ښايئ چې بے شکه دا سُورتِ غِنیٰ (يعني د محتاجۍ لرې کوونکے سُورت) دے- (2)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې څومره اسانه نُسخه ده- پهٔ دې وخت کښې به ډېر کم خلق وي کوم چې به د ګرانۍ فرياد نهٔ کوي، هر دريم څلورم کَس د معاشي حالاتو پهٔ وجه پريشانه پهٔ نظر راځي، زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته د نيکو نه ډکه نُسخه ښودلې ده، روزانه د شپې د سُورهٔ وَاقِعه تِلاوت کوئ! د کور زنانوٓ له هم د دې ترغيب ورکړئ! که الله پاک وغوښتل نو محتاجي به ختمه

---

1...فضائل الصحابه لامام احمد، من فضائل علی رَضِیَ اللّٰهُ عنه ...الخ، جز:2، صفحه:728، حديث:1247-

2...مسند فردوس، جلد:3، صفحه:10، حديث:4005-

شي، پهٔ دُکان، کاروبار او مال او دولت کښې به هم برکت راشي او اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د هر یو حرف پهٔ بدله کښې به 10، 10 نیکۍ هم میلاؤیږي-

کس چیز کی کمی ہے مولیٰ تری گلی میں
دُنیا تری گلی میں، عُقبیٰ تری گلی میں

## د مخکښینو، وروستنو عِلم

د سُورهٔ وَاقِعه یو بَل ډېر ښکلے فضیلت واورئ! حضرت مَسرُوق رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي:

مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَعْلَمَ عِلْمَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ، وَعِلْمَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، فَلْيَقْرَأْ سُورَةَ الْوَاقِعَةِ

ترجمه: څوک چې د مخکښینو، وروستنو، د دُنیا او د اخرت عِلم زده کول غواړي، هغهٔ له پکار دي چې سُورهٔ وَاقِعه لولي- (1)

اَللّٰهُ اَکْبَر! قرآنِ کریم څومره د کمال او بے مثاله کتاب دے- صرف 96 آیتونه---!! او پهٔ دې کښې د مخکښینو او وروستنو عِلم هم موجود دے، د دُنیا او د اخرت عِلم پکښې هم راځائے کړے شوے دے-

کیسے ہو پائے بیاں عظمت کلامُ اللہ کی
ماوَرَاء ہے عقل سے رِفعت کلامُ اللہ کی
سارِی دُنیا کی بھلائی کے لیے نازِل کیا
رَبّ نے کردِی ہے عیاں شوکت کلامُ اللہ کی

دلته ځینې خلق د تاریخ لوستلو سره ډېر شوق لري، د تاریخ ډېر ډېر کتابونه لولي، تاریخي ویډیوګانې هم ګوري خو افسوس چې د قرآنِ کریم نه لرې والے اِختیارولے شي، تاسو لږ

---

1...مصنف ابن شیبه، کتاب الزہد، کلام المسروق، جلد:8، صفحه:211، رقم:9-

د الله پاک کلام خو ولولئ او وګورئ چې په دې کښې يواځې د تېر وخت تاريخ موجود نهٔ دے بلکې د راتلونکو تاريخ پکښې هم موجود دے، هغه کوم يو عِلم دے کوم چې د رَبُّ الْعٰلَمِين په کلام کښې موجود نهٔ دے، بس مونږ دې طرف ته رجوع نهٔ کوو- کاش چې زمونږه د قرآنِ کريم د لوستلو، په دې باندې د پوهېدلو، زده کولو او د دې د ښه ډېر تِلاوت کولو شوق نصيب شي- نيت اوکړئ چې ډېر نهٔ وي نو کم از کم د سُورۃ وَاقِعه نه به څهٔ نا څهٔ، سره د تَرجَمۂ کنزالايمان، سره د آسان تَرجَمۂ کَنزُالعِرفَان، سره د تفسيرِصِراطُ الجنان، نُورُ الْعِرْفان او خَزائنُ الْعِرفان د لوستلو او په هغې د پوهېدلو کوشش به کوو- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِيّن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ-

## په 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د اخلاقي مؤمِن جوړيدو، د الله پاک او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! په 12 ديني کارونو کښې پوره برخه واخلئ! په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول** هم دي-

* **د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت دي-** * د **الله پاک** اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې د سحر د نـمونځ د پاره تللو نو اوده [خلق] به يې راپاڅول(1) * د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ هم دغه انداز وو(2) او * د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي

---

1...ابو داؤد، کتاب الصلاة، باب الاضطجاع بعدها، صفحه:208، حديث:1264-

2...مشکاة المصابيح، جلد:1، صفحه:244، حديث:1240ماخوذاً-

المرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ به هم پهٔ دې ښکلو ښکلو سُنَّتو باندې عمل کولو-[1]

*تاسو هم دا سُنَّت اختیار کړئ! د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاخوئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ډېر برکتونه به درنصیب شي * چې نور راپاخوئ نو یقینًا به درته هم د جُمعې سره د سحر د نـمونځ کولو سعادت درنصیب کیږي * سحر سحر به مو د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب نصیب کیږي * ستاسو پهٔ راپاخولو چې څومره خلق نـمونځ کوي، د هغوئي د ټولو د نـمونځونو ثواب به هغوئي ته هم میلاویږي او اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ستاسو پهٔ اعمال نامه کښې به هم لیکلے کیږي- * سحر وختي به درته د پیدل تللو موقع میلاویږي نو صحت به مو هم ښه کیږي *

یوه اهمه فائده دا هم ده چې جومات ته به خلق ډېر راځي، د یو اِسلامي وررور د بیان خلاصه ده چې مونږ پهٔ یوۀ کښې د سحر د نـمونځ د پاره راپاخول شروع کړل نو نـمونځ کوونکي دومره زیات شول چې د جومات پهٔ دالان کښې مو ورته شامیانې [یعني تمبوان] ولګول-

سُبۡحٰنَ اللّٰہ! هیڅ ګرانه نه ده، د جُمعې د وخت نه 20، 25 منټه مخکښې راپاځئ! د سحر د نـمونځ د پاره خو هسې هم ځئ، اواز کوئ او ځئ! جومات ته به هم ورسئ او د **اللّٰه پاک** پهٔ فضل سره به د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم درنصیب شي- نیت وکړئ چې اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د سحر د نـمونځ د پاره به خلق راپاخووم- راځئ چې ستاسو د ترغیب د پاره تاسو ته یو مَدَني سپرلے بیان کړم-

## د فیضانِ مدینه د پاره زمکه میلاؤ شوه

د یو اِسلامي وررور بیان دے چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره مونږ یو ښار ته لاړو، د

---

1...تاریخ الخلفاء، صفحه:112ماخوذاً-

سحر د اذان نه پس مونږه د سحر د نـمونځ د پاره د راپاخولو د پاره تللو چې ناڅاپه د يو کور نه يو ماډرن ځلمے هم زمونږ سره شامل شو او هغهٔ د سحر نـمونځ په جومات کښې د جَمعې سره ادا کړو- وروستو د هُغه ځلمي پلار د مَدَني قافلې والؤ سره د ملاقات د پاره راغلو- هغهٔ ډير مالداره کَس وو- هغهٔ ووئيل چې د سحر د نـمونځ د پاره د راپاخولو په برکت زما نافرمانه ماډرن بے نـمانځه ځوي پينځه وخته نـمونځ ګزاره شوے دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هُغه ماډرن ځلمي پلار متاثره شو او په هُغه ښار کښې يـې د مَدَني مرکز فيضانِ مدينه د پاره زمکه ورکړه-

| | |
|---|---|
| تِرا شکر مولا دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| یقیناً مقدر کا وہ ہے سکندر | جسے خیر سے مل گیا دینی ماحول |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مدنی قاعِدہ(Madani Qaida) موبائِل ایپلی کیشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوت اسلامي I.T ډيپارټمنټ له خوا يو موبائيل ايپلي کيشن جاري کړےشوے دے د کوم نوم چې مدني قاعده (Madani Qaida)-په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مدني قاعده او د دې اډيو شامله کړے شوي ده يعني په دې ايپلي کيشن چې تاسو د مدني قاعدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک کوئ په اډيو کښې به د هغې تلفظ چليږي،داسې د دې ايپلي کيشن په ذريعې سره په اسانۍ سره مدني قاعده لوستل،د دې مشق کولو سره درست مخارج او ضروري تجويد زده کولے شئ- په دې ايپلي کيشن کښې د مدني قاعدې د ټولو سبقونو ويډيو ريکارډنګ هم ليدلے شئ - په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انستال کړئ او فائده ترېنه واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه پهٔ **مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي خالي پهٔ ورځ به هم پهٔ مَدَني چینل د ماسخوتن د نمونځ نه پس (تقریباً8:30 بجې) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پهٔ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له هم دعوت ورکړئ ❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه هره هفته د یوې **دیني رسالې** لوستلو ترغیب ورکوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رسالہ **زړهٔ بدلوونکي 41خبرې** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس اېپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شېئر کړي! ❁ مکتبة المدینه وړاندې کوي ،د محشر پهٔ سخته ګرمۍ کښې د عرش الهي سورے موندونکو خوش نصیبو پهٔ بیان باندې مشتمله سایه عرش کس کس کو ملے گا؟- دا رساله د مکتبة المدینه د یوې څانګې نه پهٔ **40 روپۍ** پهٔ ځائے پهٔ اسپیشل ډسکاؤنټ سره 23روپے حاصله کړئ، پخپله یې هم ولولئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب          صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بیان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما

سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي-[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## معانقه[غاړه ملاوهل] سُنَّت دي

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان:د چا چې ورور وي نو هغۀ له پکار دي چې هغه د خپل ورور سره معانقه وکړي -[2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!غاړې ملاوهلو ته معانقه وائي او معانقه د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي [3]❁ پۀ مِرْاٰۃُ الْمَنَاجِیْح کښې دي چې :د خوشحالۍ پۀ حالت کښې د چا سره غاړه ملاوهل سنت دي [4]خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ډیر ځله پۀ صحابه کرامو رضی اللہ عنھمباندې شفقت فرمائیلو او هغوي ته به یې د معانقې شرف ورکولو مثلا ❁ د خیبر پۀ موقع نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت جعفر رضی اللہ عنہ د سینې سره ولګولو او پۀ تندي یې ښکل کړو[5] یو ځل نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ابو زر غفاري رضی اللہ عنہ راوغوښتلو، چې کله هغه حاضر شو نو پۀ شفقت سره یې هغه د سینې سره ولګولو - [6]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...کَنزُ الْعُمّال، کتاب: الفضائل، جلد:7، جز:13، صفحه:26، حدیث:36235۔

3...فتاوٰی رضویه، جلد:8، صفحه:614۔

4...مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحه:359۔

5...ابو داؤد، کتاب:الادب، باب: قبلة ما بین العینین، صفحه:813، حدیث:5220۔

6...ابو داؤد، کتاب:الادب، باب: قبلة ما بین العینین، صفحه:812، حدیث:5214 خلاصةً۔

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او وه یـې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پروردگار | سنّتوں کی تربیت کے قافلے میں بار بار |
| جو گناہوں کے مَرَض سے تنگ ہے بیزار ہے | قافِلہ عطارؔ اُس کے واسطے تیاّر ہے |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد